









# Orientation to Ontario

## د کوچنیو دعوو محکمه

په اونټاریو کې د کوچنیو ادعاوو محکمه تر 35000 کاناډايي ډالر ارزښت لرونکي مدني شخړې پرته له سود او لګښتونو لکه د محکمې فیس څخه حل او معامله کوي. په يي په ټوله کې غوښتنه کوي.

### کوم ډول قضیې د کوچنیو دعوو محکمې ته ځي؟

د هغو ادعاو مثالونه چې د وړو دعوو په محکمه کې ثبت کیدای شي عبارت دي له

د یوې موافقتنامې لاندې د پیسو لپاره دعوې، لکه:

- د پلورل شویو او تحویل شویو توکو یا خدماتو لپاره نا تادیه شوي حسابونه.
- نادا شوي پورونه.
- نا ورکړل شوي کرایه.
- نا کافي فنډ (NSF) چکونه.

د تاوان لپاره ادعوې لکه:

- د مال یا ملکیت زیان او ضربه.
- د جامو مینځلو پرمهال د جامو مینځلو ته تاوان اوښتل.
- شخصي صدمې.
- له ترون څخه سرغړونه.

### پر دې به زما څومره مصرف وشي؟

تاسو باید د وړو دعوو په محکمه کې د ادعا یا دفاع د ثبتولو او په عمل کې د ډېرو مرحلو لپاره فیس ورکړئ. داسې فیسونه هم شته چې تاسو يي باید شاهدانو ، چېتاسو يي راغواړئ (په محکمه کې د حاضرېدو غوښتنه يي وکړئ) د حاضرېدو او محکمې ته د سفر لپاره ورکړئ. سربېره پر دې تاسو باید د هرهغه ژباړونکي ته چې تاسو ورته اړتیا لرئ او د بصري ژبې تفسیرونکي ته باید پیسې ورکړئ. د دعوې ګټونکی لوری له بل اړخ څخه چې د هغه لګښتونه لکه د محکمې فیسونه غوښتلی شي.

### کله باید دعوه پیل کړم؟

ممکن د وخت محدودیت وي چې له ادعا کولو مخکې تاسو څومره وخت انتظار کولی شئ. که تاسو د دې په اړه ډاډه نه یاست چې ستاسو په قضیه څومره موده تېرېږي، تاسو باید له وکیل یا حقوقپوه سره مشوره وکړئ.

### د یوې ادعا د ملاتړ لپاره کوم ثبوت ته اړتیا لرم؟


تاسو باید خپله قضیه ثابته کړئ. په پام کې ونیسئ کوم شاهدان او/یا اسناد (د بیلګې په توګه قراردادونه، د NSF چکونه، ریکارډونه یا تادیات) باید ولرئ چې تاسو د خپلې ادعا ملاتړ وکړئ. که تاسو د خپلې ادعا د تقویې لپاره اسناد یا شاهدان نه لرئ، ستاسو ادعا ممکن بیا هم بریالۍ شي. خو که د بل چا پر وړاندې ستاسو ادعا یوازې ستاسو وینا او خبره وي نو ستاسو قضیه ثابتول به ډېر ستونزمن وي.

### د کوچنیو دعوو په محکمه کې څوک کولی شي زما استازیتوب یا وکالت کولی شي؟

د کوچنیو دعوو په محکمه کې ډېری ادعا کوونکي خپل استازيتوب کوي. خو ممکن وکیل یا داسې شخص چې د قانون تولنې لخوا واک ورکړل شوی وي، لکه د حقوقي محصل یا حقوقي وکیل ستاسو استازيیتوب یا وکالت وکړي.

### مهم یادښت

**د اونټاریو حکومت د هغو کسانو لپاره د فیس د معافیت سند معرفي کړ چې ممکن د دوی د مالي شرایطو له امله عدالت ته له لاسرسي څخه محروم شي.**







1-855-626-0002
https://settlement.org/o2o

Funded by / Financé par :

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada

## حقوقپوه یا حقوقي وکیل څنګه پیدا کړم؟

که تاسو غواړئ د اونټاریو له حقوقپوه یا جواز لرونکي حقوقي وکیل سره مشوره وکړئ، تاسو کولی شئ د قانون ټولنې راجع کولو خدمتونو سره اړیکه ونیسئ. تاسو کولی شئ په lawsocietyreferralservice.ca کې د آنلاین غوښتنې فورمې په ډکولو سره د راجع کولو خدمتونو ته غوښتنه وسپارئ.

د دې خدمتونو دفتر به تاسو ته ستاسو په سیمه کې د وکیل یا حقوقپوه نوم درکړي، چې تر 30 دقیقو پورې وړیا لومړنۍ مشورې چمتو کوي ترڅو تاسو سره ستاسو د حقونو او اختیارونو په ټاکلو کې مرسته وکړي.

د بحران کرښه د دوشنبې څخه تر جمعې پورې د سهار له 9:00 بجو څخه تر 5:00 بجو پورې فعاله وي. په 416-947-5255 یا

1-855-947-5255 (وړیا) اړیکه ونیسئ. دا د هغو خلکو لپاره ده چې نشي کولی آنلاین خدمت وکاروي.

### مهم یادښت

**د دې یادونه اړینه ده چې پرېکړه د محکمې پرېکړه ده. د تادیې هیڅ تضمین نه شته. که ستاسو په حق کې قضاوت وشي، او مقابل کس تاسو ته ستاسو د حق په ور کولو کې پاتې راشي، تاسو ممکن د خپل حق د ترلاسه کولو لپاره ګامونه پورته کړئ.**

## که زه ژباړونکي ته اړتیا لرم څه وکړم؟

د کوچنیو دعوو محکمه د محکمې د ټولو محاکمو لپاره له انګلیسي څخه فرانسوي او فرانسوي څخه انګلیسي ته د ژباړې خدمتونه وړاندې کوي. له انګلیسي یا فرانسوي څخه بلې ژبې ته ژباړه باید تنظیم شي او د دعوې د هغه اړخ لخوا باید پیسې ورکړل شي چې ژباړې ته اړتیا لري. د محکمې دفتر به د هغو کسانو لپاره چې د فیس معافیت لپاره وړ وي په هره ژبه کې "په محکمه کې ژباړې لپاره پیسې ورکوي.

## که د سم نه اورېدو د ستونزې له امله د بصري ژبې تفسیر ته اړتیا وي نو څه باید وکړم؟

که تاسو په اورېدلو کې ستونزه لرئاو ژباړونکي ته اړتیا لرئ، تاسو کولی شئ د کوچنیو دعوو په محکمه کې غوښتنه وکړئ. تاسو کولی شئ یو ژباړونکی له ځانه سره راولئ یا غوښتنه وکړئ چې ستاسو لپاره د ژباړن ترتیب وشي. محکمه به د بصري ژبې ژباړونکو ته د وزارت د ژباړونکي معیاري نرخ یا غوښتل شوي فیس (کوم چې لږ وي) ورکوي.

## که چیرې زه په بل شکل یا فارمټ کې لارښود ته اړتیا لرم څه باید وکړم؟

د اونټاریو معلولیت لرونکو قانون له اوومې برخې سره سم، که تاسو په بل شکل یا فارمټ کې خپرونې غواړئ؛ مهرباني وکړئ د اونټاریو خدمت خپرونو سره اړیکه ونیسئ: خدمت اونټاریو خپرونې 50 Grosvenor سړک ټورنټو، ON

M7A 1N8

وړیا شمیره: 1-800-668-9938

TTY وړیا: 1-800-268-7095

د کوچنیو دعوو محکمې په اړه د نورو معلوماتو لپاره لاندې ټروني وګورئ:
attorneygeneral.jus.gov.on.ca/english/courts/guides



